# هوپو تعليمي کيسې

## جادويي آس

## کاغذي پاکټونو نانځکه

**مواد چې اړتيا به ورته ولرئ:**
غرمې ډوډۍ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرايون (د موم رنګې)، مارکر، ځليښ، نښلوونکي خپرونکی، رنګه جوړښتي کاغذ يا کارتونه، سکاش ټيپ، کيچی، سټيپلر، د ميزونو لپاره اخبار.

**اختياري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانۍ خلتی، پايپونو پاکوونکي، تاوونکی، مرۍ (مشکنۍ)، تڼۍ، د ټوټو چنډۍ، د ويښتو لپاره تارونه، پلاستيکي سترګی، او نور



پر لاس د خلتی/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.

### ښکرور شهزاده:




۱. د کارت سپين کاغذ پر کارولو، د کاغذي پاکټ/ خلتی په اندازه پاڼه پرې کړئ. يو اړخ يې د مارکرو، رنګ يا کرايونو پر کارولو سور رنګ کړئ.



۲. کارت په نيم کې قات کړئ چې سپين اړخ يې پاس وي. پر پاسني قات، قات شوی کارت د تيز غاښ په شکل پرې کړئ. د سرې برخی دننه توره ژبه ورزياتولی شئ. لر يې قات کړئ.

۳. د خلتی/ پاکټ پر قات "خوله" ځليښ يا ټيپ کړئ.

۴. له جوړښتي کاغذی يا نورو کاغذي پاکټونو/ خلتو جامې، لاسونه، پنجې، ښکرونه، غوږونه، کمربند او سترګی پرې او له خوښې سره سم پرې رسامي يا يې رنګه کړئ. دا ټوټې په خپل ځايونو کې ځليښ يا ټيپ کړئ. تاسې کولاشۍ اصل تڼۍ، پترې، د ويښتو او ږيرې لپاره تار ځليښ يا ټيپ کړئ.





### شهزاده او نور لوبغاړي:

۱. ژبې ته ورته کوچنۍ تور شکل او له هغې هم کوچنۍ سور ژبې شکل غوڅ کړئ، سور شکل پر تور شکل ځليښ کړئ. بيا، دا ټوټه د خلتی/ پاکټ رپانده برخی لاندی ځليښ کړئ.



له استعمال وړاندی نانځکی وچيدو ته پرېږدئ. ځيني وخت د ټينګولو او ثبات لپاره لر إضافي ځليښو يا سټپلر سنجاق ته اړتيا وي.

**ښه وخت ولرئ!**

جادويي آس د آدريس شاه ليکنه، د جولي فري مين رسامي، د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۸ کال چاپ حقوق، ISHK

۲. د کارت یا جوړښتي کاغذ یوه ټوټه د پاکټ/ خلتې رپانده کاغذ په اندازه پرې، او د لوبغاړي مخ پاسنۍ برخه رسامي او پرې کړئ. ورپسې سترګې، وچولی رسامي یا پلاستیکي سترګې یا له رنګه کاغذه پرې شوی سترګې ښلیښ کړئ. که خوښه مو وي دوه غوږونه رسامي او پرې کړئ. ټولی ټوټې سره یوځای ښلیښ او پرېږدئ چې وچ شي. خولۍ یا سرکالي پرې او د سر له ټوټې سره یې ښلیښ کړئ. پر مشکښو، فیتو او پتریو او نورو یې سینګار کړئ.



۳. له سپک کارت کاغذ یا جوړښتي کاغذ څخه جامې، لاسونه، بوټان او پښې او نور شکلونه پرې کړئ. دا ټوټې سره یوځای ټیپ یا ښلیښ کړئ او له خپلې خوښې سره سم یې پر رنګولو، رسامۍ، مشکښو پر ډېرولو، ټېیو، زریو، إضافي کاغذونو او نورو سینګار کړئ.

کله چې تنه وچه شي، ټوله مجموعي ټوټه د خلتې/ پاکټ مخې پورې ټیپ یا سټېپلر کړئ (پام مو وي چې ټوله خلته/ پاکټ بند ښلیښ نه کړئ)







**لښتو نانځکی:** د جادویي آس سر، کب او نور مواد رسامي، سینګار او پرې کړئ. پنسل یا لښتې د پرې شوو شاته ښلیښ یا ټیپ کړئ او د حرکت لپاره یې وخوځوئ.









**د نانځکو ډرامې/ تیاتر نظرونه/ مفکورې**

- پر میز سرمیزي یا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د میز لاندې کښیني او خپلې نانځکي د ټوټې له لاندې راباسي او غربیږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې ښلور کنجه کړکۍ ورکړئ، او "سټیج" دروازه شاته ورکړئ. یو یا دوه زده کوونکي په کارتن کې کینوئ تر څو خپله ډرامه/ تیاتر وړاندې کړي.
- یو بل ته مخامخ چوکۍ کیږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کیني او خپلې ډرامې اجرا کړي. دا نانځکی د ډرامې په مرکز یا زیرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتیا وي، لاسرسی ورته وشي.

پورته د کیسې ډېرو لوبغاړو او موادو باره کې ځینې وړاندیزونه دي.